دویم کال - ۵مه گڼه - ۱۴۴۴ - ذوالقعدة الحرام

د مطبوعاتو ریاست

Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت



## گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

# آبادي

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ

۵ ګڼه

- کرنه او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیزې
- د ا.ا.ا له لوري پیل شوې زېربنایي پروژې او وروستي کاري پرمختګونه
- ملي تدارکاتو کمېسیون؛ تر اوسه پورې د میلیاردونو افغانیو په ارزښت لسګونه بېلا بېلې پروژې منظورې کړې دي

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحیم

# آبادي

۵ گڼه
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

**کتنپلاوی:** مولوي ذبيح الله، مولوي عبدالله عزام، امان الله حنيفي او فضل ولي شيراني

**مسئول مدير:** مولوي محمد آصف

**مرستيال:** احمدشاه راشد

**ډيزاينر:** عطاءالرحمن سعيد

**فوټوژورنالېست:** سيد عشرت رحمتي

**چاپ:** بهير مطبعه



پته: مرمرینه ماڼۍ، کابل - افغانستان

ټيليفون: 0202107500

برېښناليک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

د اقتصادي کمېسیون غونډې ۲- ۱۰

د ملي تدارکاتو کمېسیون غونډه ۱۱

ناستې او ډيپلوماتيکې ليدنې ۱۲- ۱۵

خبري راپورونه او اعلامیې ۱۶- ۲۵

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۲۶- ۴۸

د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند پیغامونه ۴۹



# سرلیکنه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجلې د خپرېدو موخه د معاونیت د غونډو، پرېکړو، ډیپلوماتیکو لیدنو کتنو، اقتصادي کمېسیون، پېښو ته د رسېدو کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون، اقتصادي تحلیلونو او سترو اقتصادي پروژو د پیل په اړه معلومات خپرول دي. اقتصاد محوره سیاست د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ په سر کې ځای لري چې تولید او د کاري فرصتونو رامنځته کول یې لومړیتوب دی. افغانستان د پانګونې او تولید ډېر فرصتونه لري چې د کانونو، کرنې، انرژۍ او صنعت سکټورونه یې د مثال په توګه یادولی شو. د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې بشپړ امنیت ټینګ شوی او حکومت له خصوصي سکټور سره په ګډه هڅه کوي چې کورنۍ پانګونه زیاته کړي، څو د سوداګرۍ پر ځای تولیدي اړخ ته توجه زیاته شي. د کوچنیو، متوسطو او سترو تولیدي صنعتي فابریکو جوړولو ته زمینه برابره شوې، موخه یې داده چې په نېږدې راتلونکي کې د وارداتو ځای صادرات ونیسي. د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته په کتو، دا هېواد کولای شي مرکزي اسیا له جنوبي اسیا سره ونښلوي او د تېلو، ګازو او نورو ستراتېژیکو زېرمو له پاره غوره بازار پیدا کړي. له همدې کبله په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه فرصتونه شته، د افغانستان اسلامي امارت له ملي او نړیوالو سوداګرو څخه ملاتړ کوي، څو وکولای شي چې د ټول افغانستان په کچه د پانګونې فرصتونه رامنځته او د پانګونې لپاره د خوندي چاپیریال په رامنځته کېدو سره پر سترو او ملي پروژو د پانګونې له پاره زمینه برابره کړي. همدغو فرصتونو ته په کتو سره د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه داخلي سرچینو متکي کړي. د ریاست‌الوزراء د اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجله د همدې موخې له پاره جوړه شوې څو وکړای شي، د دغه معاونیت فعالیتونه او اقدامات تر ملت پورې ورسوي. په دې میاشتنۍ مجله کې د اقتصادي چارو کمېسیون، ډیپلوماتیکو ناستو، پېښو ته د رسېدو کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون او د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کورنیو او بهرنیو سفرونو، کنفرانسونو، له هېوادوالو سره د لیدنو او د نوموړي له لوري د تر سره شویو پرېکړو، تصمیمونو او پرمختګونو په اړه راپورونه، د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي په پار اقتصادي څېړنیزې لیکنې او په ټوله کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د کاري پرمختګونو په اړه راپورونه خپرېږي

# د اقتصادي کمېسیون او ملي تدارکاتو کمېسیون غونډې



د اقتصادي کمېسیون پرېکړه؛

# هېواد ته د واردېدونکو توکو د کیفیت د تأمین په اړه په ټولو بندرونو کې واحد کمپلکسونه جوړېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، چې له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو باندې بحث وشو.

په غونډه کې د لغمان ولایت د شاهي کانال پروژې په اړه هراړخیز بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د زمینداور پروژې لپاره ټاکل شوې کمېټه به په دې تفکیک سره چې مشري به یې د اوبو او انرژۍ وزارت کوي، د لغمان شاهي کانال په اړه تخنیکي او مالي څېړنه وکړي او خپل راپور به له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي څو اقتصادي کمېسیون د راپور په اړه وروستی تصمیم ونیسي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده غونډه کې د مالیې وزارت په مشرۍ پرېکړه وشوه چې د کندهار، ننگرهار، هرات او بلخ ولایتونو په گډون د افغانستان په هر بندر کې دې د خوړو، درملو، نفتو، ساختماني او نورو توکو د ټیست په موخه واحد کمپلکسونه جوړ شي او هره اداره دې په دغو کمپلکسونو کې خپل لابراتوارونه فعال کړي.

په همدې هدف باید د یادو کمپلکسونو د ودانیزو چارو د ترسره کولو او د ټیستونو د اجراء عملیاتي چارې خصوصي شرکتونو ته په عامه-خصوصي اوږدمهاله قراردادونو ورکړل شي. په یادو جوړېدونکو کمپلکسونو کې باید د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت لابراتوارونه په نظر کې ونیول شي. د دغو چارو تر بشپړېدو پورې دې د خوړو او درملو د ټیست چارې د خوړو او درملو ملي ادارې له خوا د پخوا په شان ادامه ولري.

پر دې سربېره همدارنگه د خوړو او درملو ملي ادارې ته دنده وسپارل شوه چې په ښارونو کې د خوړو او درملو د ټیست په موخه باید د خوړو د اتو او درملو د څلورو لابراتوارونو قراردادونه خصوصي شرکتونو ته د داوطلبۍ لپاره وړاندې کړي.

د اقتصادي کمېسیون له لوري همدا راز کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د نباتاتو د قرنطین



او روغتیا ساتنې کمپنۍ پر پرېکړو بیاځلې غور وکړي او خپل نظر دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي ناسته کې د اساسي درملو د تولید په موخه په افغانستان کې له شته طبیعي منابعو څخه د ګټې اخیستنې طرحې په اړه خبرې وشوې او پرېکړه وشوه چې ابن سینا د درملو دولتي شرکت دې خپله طرحه له مالیې وزارت سره شریکه کړي. مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د دغه شرکت طرحه له دولتي بانکونو سره شریکه او د اسلامي بانکدارۍ د اصولو په رڼا کې دې د یوه بانک مالي ملاتړ ترلاسه کړي. همدارنګه په غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري له چیني شرکت سره په جوزجان ولایت کې د 300 مېګاواټه ګازي برېښنا فابریکې جوړولو او له 77 ترکي شرکت سره د سروبي 2 برېښنا بند جوړولو پر هوکړه‌لیکونو باندې بحث وشو. له هر اړخیز بحث وروسته له یادو شرکتونو سره شوي هوکړه‌لیکونه تایید شول. یاد شرکتونه په دې اړه مکلف وګرځول شول چې لومړی په اړوندو سیمو کې خپلې سروې ترسره او مطالعات بشپړ کړي. البته یاده سروې او مطالعات به یې بلاعوضه وي او اسلامي امارت به د یادو شرکتونو پر وړاندې کوم مالي مکلفیت نه لري.

د اقتصادي کمېسیون په دغه نوبتي غونډه کې کانونو او پترولیم وزارت ته دنده وسپارل شوه چې په جوزجان ولایت کې د چیني شرکت اړوند د ګازو د ذخایرو د کفایت په اړه اطمینان حاصل کړي. د یادو چارو تر بشپړېدو وروسته به د اوبو او انرژۍ وزارت د چیني او 77 ترکي شرکتونو قراردادونه د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د بوستان سبز فابریکې د فعالیتونو د څېړنې په موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د استازي په ملتیا ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د بوستان سبز فابریکه له نږدې وګوري او خپل راپور له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي.

د غونډې په پای کې د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو پر موضوع هم بحث وشو. پرېکړه وشوه چې د افغانستان د ملي اقتصادي مشورتي بورډ د ایجاد موضوع تایید ده. د یاد بورډ د رامنځته کولو طرحه دې د اقتصادي کمېسیون له غړو وزارتونو او ادارو سره شریکه شي او که هغوی د بورډ د ایجاد د طرحې او همدارنګه د هغه د ترکیب په اړه نظریات او وړاندیزونه لري، هغه دې د اقتصادي کمېسیون له دارالانشاء سره شریک کړي.







د اقتصادي کمېسیون پرېکړه؛

# کانونو او پټرولیم وزارت دې د سمتي سرو زرو کان استخراج آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې د تخار ولایت د چاه آب ولسوالۍ د سمتي سیمې سرو زرو کان آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. سمتي د سرو زرو کان لسګونه ټنه ذخیره لري چې په استخراج او پروسس سره به یې د دولت خزانې ته په میلیونونو افغانۍ عواید زیات او سلګونو هېوادوالو ته به پکې د کار زمینه برابره شي.



د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې همدا راز اوبو او انرژۍ وزارت ته سپارښتنه وکړه څو له WAPCOS هندي شرکت سره د ارغستان بند جوړولو قرارداد د ملي تدارکاتو کمېسیون لخوا فسخه کړي او د یاد بند د سروې، ډیزاین او ساختماني چارو کارونه له یو بل وړ شرکت سره مخکې یوسي. اوبو او انرژۍ وزارت له هندي WAPCOS شرکت سره پرله پسې تماسونه نیولي، چې په پایله کې یې یاد شرکت حاضر نه دی څو د ارغستان بند چارې په مناسب قیمت پر مخ یوسي. ارغستان بند په کندهار ولایت کې جوړېږي چې د چارو په بشپړېدو سره به یې زرګونه هکتاره ځمکه خړوبه او د شاوخوا سیمې اوسېدونکو ته به د هغوی له اړتیا سره سمه برښنا هم برابره کړي.

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري د مالیې، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو، د چارو اداري لوی ریاست او د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له استازیو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دولتي شرکتونو په اړه د ۱.۱.۱ د مشرتابه عالي مقام، ریاست‌الوزراء محترم مقام، کابینې او اقتصادي کمېسیون ټول حکمونه او پرېکړې په هر اړخیز ډول وڅېړي. یاده کمېټه دې د دولتي شرکتونو قانون، جوړښت، مدیریت، نظارت او نورو اړوندو اړخونو ته کتنه وکړي او دا دې جوته کړي چې د دولتي شرکتونو اوسنی جوړښت مؤثر دی او که نه.

نوموړې کمېټه به په دې اړه هر اړخیزه طرحه برابره او اقتصادي کمېسیون ته به یې وړاندې کړي.



د اقتصادي کمېسیون پرېکړه؛

# له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې

# به پر ځانګړو اقتصادي زونو

## بدلې او د بلخ او کابل پر هغو به یې په ازمایښتي ډول کار پیل شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته د صنعت او سوداګرۍ وزارت لخوا د اقتصادي ځانګړو زونونو په اړه چمتو شوې طرحه تایید شوه. پرېکړه وشوه چې د اقتصادي ځانګړو زونونو د طرحې د تطبیق لپاره دې اړوند تأسیسات د دفاع وزارت لخوا د یو پلان له مخې په تدریجي ډول صنعت او سوداګرۍ وزارت ته انتقال شي او یاد وزارت دې په همدې موخه له یادو اډو څخه یوازې د بلخ او کابل پر هغو ازمایښتي کار پیل کړي.

د ځانګړو اقتصادي زونونو په اړه همدا راز زیاته شوه چې له صنعت او سوداګرۍ وزارت سره په همغږۍ به په اړوندو زونونو کې د دروازو او د زونونو داخلي امنیت د کورنیو چارو وزارت او د یادو زونونو له محوطو څخه بهر سیمې د دفاع وزارت لخوا وساتل شي.



د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د شاه و عروس بند د پاتې چارو د بشپړېدو او د چارو د کیفیت په اړه د اقتصادي معاونیت د استازي په ګډون ټاکل شوی پلاوی باید د یاد بند د پاتې چارو او کیفیت په اړه خپلې څېړنې ترسره او راپور یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکې ناستې ته وړاندې کړي. که په دې اړه کومه ستونزه نه رامنځته کېدله، مالیې وزارت دې د قراردادي شرکت له انوایسونو څخه د تضمین پیسې د دولت حساب ته انتقال کړي او یادې پیسې دې د شرکت په تضمین کې حساب شي.

همدارنګه مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د شاه و عروس بند د پاتې چارو د بشپړولو لپاره په مالي بودیجه کې پیسې ځانګړې کړي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د اوسپنې پټلۍ او برېښنا اړوند پروژو د لومړیتوبونو ټاکلو په موخه دوې جلا کمېټې جوړې شوې. تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د دغو بین الوزارتي کمېټو د چارو د همغږۍ په موخه به د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له اړوندو وزارتونو سره د موضوعاتو د تعقیب او تطبیق په موخه د معینانو په کچه کار وکړي.

د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس، یادو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې د اوسپنې پټلۍ او برېښنا اړوند هغه پروژې مشخصې کړي چې د افغانستان د داخلي عوایدو پر مټ یې ودانیزې چارې بشپړېدای شي. یادې کمېټې به د وروستیو تصمیمونو په موخه خپل راپورونه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کوي.

د نفرایټو د ورکړل شوو قراردادونو په اړه تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې یاد قراردادي شرکتونه راوغواړي او له هغوی دې وغوښتل شي چې د یوې اونۍ په موده کې د قرارداد د شرایطو مطابق په ورکړیو قیمتونو اړونده قراردادونه مخته بوزي؛ که چېرې د نفرایټو قراردادي شرکتونه د اړوندو قراردادونو تطبیق ته حاضر شول، خپل کار دې د قرارداد د شرایطو مطابق مخته بوزي او که چېرې د شوو قراردادونو مطابق کار ته حاضر نه شول، قراردادونه به یې فسخه او نوموړي شرکتونه، د شرکتونو رییسان او سهمداران به یې د محرومیت لېست ته واچول شي. داسې چې تر پنځو کلونو پورې به په داوطلبیو کې شراکت ونشي کړای. که د محرومیت لېست ته له اچولو شوو شرکتونو سره بل هر چا شراکت وکړ او پرې ثابت شو، هغه به هم د محرومیت لېست ته اچول کېږي.

پردې سربېره په یاده غونډه کې پر بار وړونکو موټرو د GPS سیستم نصبولو موضوع په اړه هم بحث وشو. پرېکړه وشوه چې مؤظفه کمېټه دې په دې اړه له اړوندو شرکتونو سره خبرې وکړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د غونډې په بله برخه کې سپارښتنه وشوه چې د مصطفی عظیمي شرکت لخوا د کابل ښار د نوي ښار په پارک کې د پانګونې طرحه به د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د ټاکل شوې کمېټې لخوا یو ځل بیا د کابل ښاروالۍ او کور او ښار جوړولو وزارت له تایید شوو نظرونو سره مل اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شي.

د غونډې په پای کې د مالیې وزارت لخوا یوولس تحلیل شوې پروژې تایید شوې. د اقتصادي کمېسیون د ټولو غړو له لوري پرېکړه شوه چې مالیې وزارت دې د مشخصو شوو یوولسو پروژو اړوند په انکشافي بودیجه کې پیسې په نظر کې ونیسي. په یادو پروژو کې د کمال خان بند، شاه و عروس بند، پاشدان بند، د کابل طبي پوهنتون علي آباد روغتون کې د سرطان ناروغۍ د درملنې مرکز، د کابل-لوګر سړک دویم لین او ځینې نورې مهمې پروژې شاملې دي.

د اقتصادي کمېسیون پرېکړه؛

## د خوړو او درملو ټول شرکتونه او سوداګر مکلف دي چې د یوې نیمې میاشتې په موده کې

# خپل واردات د خوړو او درملو ادارې له اصولو سره برابر کړي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د فراه ولایت د بخش آباد او نیمروز ولایت د کمال خان بندونو د پاتې چارو د بشپړولو په موخه دې اړوند وزارتونه او ادارې د بودیجې له توشېح وروسته خپلې چارې ګړندۍ کړي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د عایداتي منابعو د فعالولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان د تطبیق اړوند د مالیې وزارت لخوا وړاندې شوی راپور او اړوند وړاندیزونه تائید او پرېکړه وشوه چې د مشرتابه عالي مقام سره دې شریک شي. اقتصادي معاونیت او مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه چې په ګډه د عایداتي منابعو د فعالولو لپاره لا نور کار هم وکړي. همدا راز ټولو وزارتونو او ادارو ته سپارښتنه وشوه چې د عایداتي منابعو د غښتلتیا په موخه خپلې پالیسۍ غني او له اقتصادي معاونیت سره یې شریکې کړي.

په ناسته کې د خوړو او درملو ملي ادارې په مشرۍ استخباراتو لوی ریاست، د صنعت او سوداګرۍ، مالیې او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارتونو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه چې افغانستان ته د غیر قانوني او بې کیفیته خوړو او درملو د تورید او بیلتې د مخنیوي په موخه یوه جامع کړنلاره جوړه او د تاییدۍ لپاره یې په عاجله توګه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون له همدې پرېکړې وروسته د خوړو او درملو ټول شرکتونه او سوداګر مکلف وبلل شول، چې د یوې نیمې میاشتې په موده کې خپل ټول واردات د خوړو او درملو ادارې له اصولو سره برابر کړي، که له ټاکلې نېټې وروسته هم هغوی د ناسمو موادو له واردولو ډډه ونه کړي، له قانوني چلند سره به مخ کېږي.

همدا راز په غونډه کې د جوزجان ولایت قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسولو په موخه د افغانستان برېښنا شرکت په مشرۍ جوړې شوې تخنیکي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو یادې سیمې ته سفر وکړي او یادو ولسوالیو ته د برېښنا رسولو موضوع له نږدې و ارزوي او خپل راپور د وروستي تصمیم لپاره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.







## اقتصادي کمېسيون؛

### په کابل ښار کې د معدني اوبو توليدوونکي شرکتونه مکلف دي چې د اوبو ټولې اړتياوې د ټانکرونو په مرسته له کابل ښار څخه بهر

# د اوبوله سطحي سرچينو څخه تأمين کړي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې د اصنافو د ملاتړ په موخه پر هغوی د ماليې راکمولو په اړه د ماليې وزارت له لوري وړاندې شوی راپور تاييد او د اقتصادي کمېسيون د 1401/1/14 مې نېټې پرېکړه تمديد شوه.

اقتصادي کمېسيون تېر کال په خپله نوبتي غونډه کې پرېکړه کړې وه چې د اصنافو د ملاتړ په موخه پر هغوی د ټاکل شوې ماليې اندازه له 1.5 څخه 0.5 سلنې ته راکمه او له يو کال وروسته به د پايلو پر اساس تصميم نيسي. د ماليې وزارت له لوري په وړاندې شوي راپور کې راغلي چې د اقتصادي کمېسيون د تېر کال د پرېکړې پر اساس د دولت خزانې ته په سلګونو ميليونو افغانۍ زيات عوايد جمع شوي، د اصنافو ستونزې حل او په شمېر کې يې د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

همدا راز په غونډه کې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د هدايت مطابق، افغانستان ته له بهر څخه د خامې مالګې د تورید د جوړ شوي ميکانيزم په نظر کې نيولو سره، د موقت وخت لپاره د تورید اجازه ورکړل شوه. په ناسته کې کانونو او پټروليم وزارت ته سپارښتنه وشوه چې څومره ژر ممکنه وي، داسې پاليسي او کړنې غوره کړي چې افغانستان د پخې مالګې په برخه کې پر کور دننه منابعو څخه خودکفا شي.

همدا راز د ماليې وزارت په مشرۍ جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو په افغانستان کې د مالګې اړوندو کانونو ذخيرې او د فابريکو لخوا توليدي ظرفيت وڅېړي او خپل راپور اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

همدارنګه په غونډه کې پرېکړه وشوه څو هغه فابريکې او شرکتونه چې په کابل ښار کې معدني اوبه او غير الکولي مشروبات توليدوي، مکلف دي چې د اوبو ټولې اړتياوې د ټانکرونو په مرسته، له کابل ښار څخه بهر د اوبو له سطحي سرچينو څخه تأمين کړي. د غونډې په پای کې د کابل ښار د اوبو سرچينو د تغذيې په موخه د اقتصادي معاونيت په مشرۍ جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له کابل ښار څخه بيرون په بل مناسب ځای کې په تدريجي ډول د معدني اوبو او غير الکولي مشروباتو د توليدي فابريکو او شرکتونو او همدا راز د شنو خونو او کرنيزو فارمونو د ځای پر ځای کولو په موخه، يو واضح او عملي طرزالعمل جوړ او د تاييدۍ لپاره يې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.



# د ملي تدارکاتو کمېسیون

## نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. د ملي تدارکاتو په یاده نوبتي غونډه کې له اجنډا سره سم پر 31 تدارکاتي موضوعاتو بحث وشو.

یاد 31 تدارکاتي موضوعات چې د بېلابېلو ادارو اړوند وو، ډېرۍ پکې د زیربنا، روغتیا، خوراکي توکو او نورو خدمتونو پروژې شاملې وې.

همدا راز په دغه ناسته کې چې د کابل ښاروالۍ لخوا د کابل ولایت په بېلابېلو سیمو کې د سړکونو جوړولو ترونونو د منظورۍ وړاندیزونه د ملي تدارکاتو کمېسیون ته وړاندې شوي وو؛ ځینې منظور او د ځینو په اړه بې اړینې لارښوونې وشوې.

د کمېسیون په دې ناسته کې د فراه ولایت د بخش آباد بند د انحرافي تونلونو د جوړولو پروژه، د هرات ولایت نور الجهاد سب سټېشن د پاتې برخو د بشپړولو پروژه، د کندهار او هرات په هوایي ډگرونو کې د خدماتو وړاندې کولو پروژې، د عدلیې وزارت اړوند د سمسورتیا پروژه، د مالیې وزارت د 2 قلمه روغنیاتو د برابرولو او تدارک پروژه، د کورنیو چارو وزارت اړوند د 12 قلمه البسې د برابرولو او تدارک پروژه او د افغانستان برېښنا شرکت اړوند په ننگرهار ولایت کې د ساختماني موادو د برابرولو او تدارک پروژه، د کمېسیون په دې غونډه کې له بحث وروسته منظورې شوې.



# ناستې

# او

# ډیپلوماتیکې لیدنې



## له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره

# د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال ولیدل

د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال مارټین ګریفیټس په ارګ کې ولیدل. د دغه لیدنې پر مهال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، واک ته د ۱.۱.۱ په رسېدو سره د نشه‌يي توکو د کښت او اداري فساد پر له منځه وړلو سربېره په ډېری انکشافي برخو کې پرمختګونه شوي دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د یو هېواد د پرمختګ او ځان بسیاینې لپاره امنیت ډېر مهم دی چې له نېکه‌مرغه په افغانستان کې اوسمهال سرتاسري امنیت تأمین شوی.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، موږ د امنیت د تأمین، عمومي عفوې، اداري فساد ختمولو، پر نشه‌يي توکو د روږدو کسانو درملنې او نورو بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت هڅې ستایو او ملاتړ یې کوو. نوموړي زیاته کړه، د تېرو 40 کلونو په پرتله اوسمهال په افغانستان کې وضعیت ښه شوی او د افغانانو د ښه راتلونکي لپاره امیدونه زیات شوي.

د مارټین ګریفیټس په خبره، نړیواله ټولنه د افغانستان د ستونزو حل په موخه له اسلامي امارت سره تعامل او دوه اړخیزو اړیکو ساتلو ته لېواله ده. اوسمهال د دغه تعامل لپاره تر ټولو ښه فرصت برابر شوی او ډېری ستونزې حل شوې دي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له بشري مرستو د مننې تر څنګ وویل، اسلامي امارت د خپل هېواد د بهبود په موخه ټولې هغه ستونزې له منځه وړې دي چې نړیوالې ټولنې یې هم په اړه اندېښنې درلودې، نو اوس د دې وخت دی چې نړیواله ټولنه د پر ځان بسیا او آباد افغانستان لپاره رغنده رول ولوبوي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې

# د مصر، سوډان او فلسطین

### د مخکښو علماءکرامو له پلاوي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د مصر، سوډان او فلسطین د مخکښو علماءکرامو له پلاوي سره وکتل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په داسې حال کې چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست محترم ملا خیرالله خیرخواه او د استخباراتو لوی رئیس محترم ملا عبدالحق وثیق هم حضور درلود، د علماء کرامو پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه: موږ له تاسو مننه کوو چې افغانستان ته راغلي یاست او د افغانانو له حالت مو ځان خبر کړ، یقیناً چې د نړۍ مسلمانانو په ځانګړي ډول علماءکرامو له خپلو افغان وروڼو سره هر وخت همدردي کړې او موږ مو منندوی یو .

ورپسې د علماءکرامو د پلاوي مشر شیخ دوکتور محمد الصغیر او غړو یې په خپلو خبرو کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د امریکا او ناټو پر وړاندې جهاد حیرانوونکې حماسه یاده کړه او د دې لویې حماسې مبارکي یې افغان ملت ته ورکړه. هغوی دغه بریا نه یوازې د افغانانو، بلکې د ټول اسلامي امت لپاره ویاړ وباله.

یاد پلاوي د خپلو خبرو پر مهال د افغانستان اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین شیخ صاحب هِبةالله اخوندزاده حفظه‌الله له لوري د عمومي عفوې اعلان، د نړۍ په تاریخ کې بې سارې بېلګه او د مکې فتحې عمومي عفوې ته یې ورته، ګټور او د ستاینې وړ اقدام یاد کړ.

په پای کې محترم ملا صاحب د یادو علماءکرامو له راتګ او معنوي ملاتړ څخه د مننې تر څنګ په خپلو خبرو کې وویل چې په نړۍ کې د افغانستان د حقیقي وضعیت سمه ترجماني نه ده شوې او متأسفانه غربي رسنۍ هر څه ته منفي بڼه ورکوي، تاسو علماء کرام خپلو ولسونو او د نړۍ مسلمانانو ته د افغانستان د اوسني وضعیت، نظام او افغان ولس واقعي ترجماني وکړئ.

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ
لوړپوړي دولتي پلاوي په چهارچنار ماڼۍ کې

# له قزاقي لوړ رتبه هيئت سره وکتل



د افغانستان اسلامي امارت د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي د قزاقستان جمهوريت د لومړي وزير مرستيال محترم ژومانګارين سريک په مشرۍ له راغلي پلاوي سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په ليدنه کې دواړو لورو پر سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، ترانزيټي، اوسپنې پټلۍ او بنسټيزو پروژو په اړه هراړخيزې خبرې وکړې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د قزاقستان له بشري مرستو مننه وکړه او زياته يې کړه، چې قزاقستان هر وخت له افغانستان سره همکاري او ښې اړيکې پاللې دي چې افغانستان هم له خپل لوري د دوستانه اړيکو د ساتلو ډاډ ورکوي. د محترم ملا صاحب په خبره، د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې لا پراخې شي، له دوست هېواد قزاقستان څخه غواړو چې په خپل هېواد کې د افغانستان نوي ډيپلوماتان ومني.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ثبات لپاره کوټلي ګامونه اخيستي او د لويو زيربنايي پروژو پر پلانونو په چټکۍ سره کار کوي. محترم ملا صاحب له قزاقستان سره د سوداګريزو اړيکو پر پراخولو ټينګار وکړ او ويې ويل چې په افغانستان کې د ډاډمن امنيت او مرکزي حکومت په رامنځته کېدو سره د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو په څېر لويو پروژو کې د پانګونې له پاره ښه زمينه برابره شوې ده.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پرمهال وويل، افغانستان ته به هغه هېوادونه لومړيتوب ولري چې د دې پروژو په ترسره کولو کې له افغانستان سره حسن نيت او په دغو برخو کې ښه تجربه ولري.

د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال وويل، قزاقستان د تاريخ په اوږدو کې له افغانستان سره ښې اړيکې درلودلې دي چې د دغو اړيکو د لا پياوړتيا په موخه به په نږدې راتلونکي کې په قزاقستان کې نوي افغان ډيپلوماتان ومنل شي.

ښاغلي ژومانګارين زياته کړه، افغانستان ته د دوی د سفر اصلي موخه د سوداګريزو اړيکو پراختيا، د سوداګريزو ستونزو د ژر حل په موخه د ګډې ډلې رامنځته کول، افغان سوداګرو ته د ويزو اسانتياوې برابرول، په دواړو هېوادونو کې بانکي څانګې پرانيستل او د افغان ټرانس په څېر بنسټيزو پروژو کې له افغانستان سره ګډ کار او په دغه پروژه کې اشتراک کول دي.

# خبري
# راپورونه
# او اعلامیې



د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې
د کانونو او پټرولیم وزارت او چینایي کمپنۍ تر منځ

# «د امو سیند حوزې د تېلو استخراج»

## قرارداد لاسلیک شو

د دغه تړون د لاسلیک کېدو پر مهال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې دا قرارداد د افغانستان په ګټه وباله او ویې ویل چې د دې قرارداد په مرسته به د افغانستان اقتصاد لا پیاوړی او د تېلو له پلوه به پر ځان بسیا کېدو ته نېږدې شي. محترم ملا صاحب د افغانستان پرېمانه طبیعي زېرمو ته په اشارې سره وویل: «افغانستان د طبیعي سرچینو له پلوه په نړۍ کې یو غني هېواد دی، خو پر نورو طبیعي معدنونو سربېره تېل د افغانستان د خلکو هغه شتمني ده چې زموږ د هېواد د اقتصاد مهم برخه پرې تکیه کولای شي.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې د افغانستان د تېلو نورې هغه زېرمې هم یادې کړې چې په زیاته کچه تېل لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې افغانستان کې افغان-تاجک، امو سیند، هرات، هلمند او کتواز کې د تېلو سترې حوزې شته چې د خامو تېلو تخمیني ذخایر یې یو اعشاریه اته میلیارده بوشکو ته رسیږي.

محترم ملا صاحب دا هم وویل چې د امو حوزې د قشقرې تیلو د ذخایرو قرارداد د تېرې اداري پرمهال له یو چینایي شرکت سره شوی و، خو وروسته یې د بېلا بېلو دلایلو له مخې چارې درېدلې وې، ولې له نیکه مرغه د اسلامي امارت په هڅو سره دغه قرارداد یو ځل بیا لاسلیک او د یادې حوزې د تیلو استخراج چارې به پیل شي.



الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند قراردادي شرکت ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت له دوی سره هر ډول همکاری ته چمتو دی. دغه راز محترم ملا صاحب له چینایي شرکت څخه وغوښتل چې د سرپل ولایت د خلکو چاپیریالي او اقتصادي امنیت ته دې پوره پاملرنه وکړي او په دې ولایت کې دې خلکو ته ټولنیز خدمتونه وړاندې کړي.

د یادولو وړ ده چې قراردادي شرکت به په یوکال کې تر 150 میلیون ډالرو پانگونه کوي، چې په 3 کلونو کې به دغه اندازه 540 میلیونو ډالرو ته لوړیږي. د قرارداد له مخې به اسلامي امارت 20 سلنه شریک وي چې دا سهم او اندازه به تر 75 سلنې پورې پورته کیږي. همدارنگه د تېلو استخراج ورځنی کچه به له 1000 ټنو پیل او د وخت په تېرېدو به یاده اندازه زیاتیږي. په دغه پروژه کې په مستقیم ډول 3000 افغانانو ته د کار زمینه برابریږي. یوه مهمه ماده چې له چینایي کمپنۍ سره په قرارداد کې ځای پرځای شوې دا ده که نوموړې شرکت تر یو کال پورې هغه ټول مواد او موارد پوره نه کړل چې په قرارداد کې یې ژمنه کړې، قرارداد به په اتومات ډول فسخه کیږي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي او اداري کمېسیونونو ته **د 1402 مالي کال د بودیجې استماعیه وړاندې شوه**

د مالیې وزارت له لوري د 1402 مالي کال د بودیجې هراړخیزه استماعیه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي او د اسلامي امارت د کابینې د یو شمیر وزیرانو او مسؤلینو په حضور کې وړاندې شوه.

په دغه غونډه کې چې د مالیې وزارت په خیبر صالون کې جوړه شوې وه، د مالیې وزارت د ملي بودیجې لوی ریاست له لوري د 1402 مالي کال لپاره د بودیجې ترتیب شوی سند له ټولو ارقامو سره شریک شو، د دې تر څنگ د راتلونکي کال د عوایدو سطحه، احتمالي کسر، د لگښتونو پر کنټرول او ځینو نورو مهمو موضوعاتو باندې هم بحث وشو.

تر تفصیلي استماعیې وروسته د گډونوالو لخوا د 1402 مالي کال ملي بودیجې اړوند ټولو برخو کې پوښتنې، نظریات او وړاندیزونه له مالیې وزارت سره شریک شول.

د بودیجې ریاست د همدې لارښوونو په رڼا کې د بودیجې سند نور هم غني کړ چې د کابینې تر تایید وروسته د توشیح او تصویب په موخه د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ته لیږل شوی، چې له تصویب وروسته به یې جزییات له هېوادوالو سره شریک کړل شي.





**د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند**

# د خیرخانې کوتل سړک د دویمې برخې د پراخېدو چارو پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خیرخانې کوتل سړک د دویمې برخې د پراخېدو چارو پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب د دې پروژې د پرانیستو مراسمو ته وویل؛ کابل ښاروالي د ښار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله د ښار بڼه منظمه شوې، موږ يې ټولې ترسره شوې هڅې ستایو او پر هېوادوالو غږ کوو چې د عام‌المنفعه پروژو په ساتلو کې له حکومت سره همکاري وکړي.

د خیرخانې کوتل سړک دویمه برخه 3710 متره اوږدوالی، 27 متره سور، 7850 متره کانکرېټي ویاله او د موټرو 11 تمځایونه لري، چې چارې به يې په لسو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. پر دغه پروژه 370 میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له کورنیو عوایدو ورکول کېږي.



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د ګلبهار پلازا ساختماني پروژې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ګلبهار پلازا ساختماني پروژې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې وويل، د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې بشپړ امنيت تأمين شوی چې تر بل هر وخت د پانګونې لپاره ښه زمينه برابره شوې. د محترم ملا صاحب په خبره، د دغه زېربنا پرانیسته يې يوه ښه نمونه ده.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد آبادول، خلکو ته اسانتياوې رامنځته کول او هغوی ته د کاري فرصتونو برابرول خپل مسؤليت بولي او د دغه موخې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي. اسلامي امارت به د هېواد د اقتصادي ثبات په موخه د لويو سړکونو رغول، د اوسپنې پټلۍ شبکو غځول او دېته ورته نورې لويې زېربنايي پروژې په نږدې راتلونکي کې پيل کړي، چې د اوسپنې پټلۍ شبکو په رامنځته کېدو سره به افغانستان د سويلي او مرکزي اسيا ترمنځ د وصل نقطه وګرځي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له هېواده بهر ملي سوداګرو او پانګوالو ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راستانه شي او په خپل هېواد کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت په ټول توان سره د دوی د سر او مال امنيت خوندي کوي، دوی ته به يې د پانګونې اسانتياوې برابرې کړي او د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

ګلبهار پلازا هستوګنيز او سوداګريز مرکز د کابل ښار په نهمه ناحيه کې د خصوصي سکټور لخوا جوړيږي، چې سلګونه هټۍ او هستوګنيز کورونه پکې شامل دي. په ياده پروژه 70 ميليون ډالره پانګونه کېږي چې په دريو کلونو کې به يې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال:

## له کابل ښار څخه پر راټولو شوو مستحقو سوالګرو به د مياشتنيو مرستو وېش دوام ولري

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پر 2000 سوالګرو نغدي او د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې. محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال د سوالګرو راټولولو پروسه مهمه وبلله او زياته يې کړه، چې اسلامي امارت ته د ولس او په تيره بيا د بې وزلو هېوادوالو لاسنيوی مهم دی. په همدې خاطر اسلامي امارت د افغانستان د پرمختګ او د خلکو د اقتصادي ستونزو د هوارۍ لپاره هڅې کوي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې د سوالګرو راټولولو کمېټه به خپل کار ته دوام ورکړي او په راټولو شويو مستحقو سوالګرو به د مرستو د وېش لړۍ هم دوام ولري. محترم ملا صاحب پر مرستندويه ټولنو او ملي سوداګرو غږ وکړ چې د افغانستان د اړمنو خلکو لاسنيوی وکړي او له هغوی څخه خپلې مرستې ونه سپموي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال يو ځل بيا له بې وزلو هېوادوالو او په تېره بيا له کابل ښار څخه د راټولو شويو مستحقو سوالګرو سره د اسلامي امارت له لوري د مرستو د دوام ډاډ ورکړ.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بادام باغ کې

# د نیالگیو کېنولو ملي کمپاین

## په موخه جوړو شوو مراسمو کې گډون او وینا وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بادام باغ کې د نیالگیو کېنولو ملي کمپاین په موخه جوړو شوو مراسمو کې گډون او وینا وکړه. محترم ملا صاحب یادو مراسمو ته وویل، موږ د افغانستان د زرغونولو او نیالگیو کېنولو په موخه د دا ډول پروگرامونو ستاینه کوو او باوري یو چې په دې سره به ډېرې شاړې ځمکې زرغونې او طبیعت ته به یې گټه ورسېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، افغانستان یو زراعتي، د پرېمانه اوبو او مناسب طبیعي چاپېریال لرونکی هېواد دی، چې باید هوا یې تر نورو هېوادونو پاکه وای، خو له بده‌مرغه د پاکې انرژۍ نشتون او د ځو لسیزو په اوږدو کې د اشغالگرو لخوا د خطرناکو بمونو او کیمیاوي وسلو استعمال زموږ د هېواد پر هوا او طبیعت بد تاثیر کړی دی. د دغه ککړ چاپېریال او وژونکو کیمیاوي موادو له تاثیراتو څخه د خلاصون یوازینی لار د نیالگیو کېنول او د هغه سالمه روزنه ده. دا کار یوازې د حکومت مسؤلیت نه دی، بلکې د هېواد هر وگړی باید په دغه برخه کې کار وکړي څو مو هېواد زرغون او یو ښه چاپېریال ولرو.

د نیالگیو کېنولو ملي کمپاین په مناسبت جوړه شوې غونډه کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ټولو هېوادوالو او په ځانگړې توگه له کابل ښاریانو وغوښتل، چې د خپلو کورونو مخ ته لږ تر لږه یو یو نیالگی کېنوي او پاللو ته یې پاملرنه وکړي. محترم ملا صاحب وویل، باوري یم که دا کار ترسره شي، په راتلونکو څو کلونو کې به د کابل ټولې تپې زرغونې شي.



# د تاپي او نورو ملي پروژو

## د امنيتي چارو د ډاډ په اړه د اقتصادي معاونيت

## اعلاميه!

تاپـي پروژه چې د سـيمې پـه کچه يوه مهمه اقتصادي پروژه ده او د پيل ابتکار يې هم د ۱.۱.۱ د لومړۍ واکمنۍ پر مهال شـوی، خـو تکميل يـې پر افغانسـتان باندې د امريکايي اشغال له امله تر اوسه ځنډېدلـی دی. د افغانسـتان اسـلامي امارت له بيا ځل واکمنېدو سره په هېواد کې بشـپړ امنيت تأمين شـوی او د دې پروژې د پلي کېدو لپـاره تر بل هر وخت اوس ښـه فرصت برابر شـوی، چې ا.ا په دې اړه کوټلي گامونه اخيستي دي.

د ۱.۱.۱ پـه هېواد کې د ملي پروژو امنيت تـه خورا توجه کـوي او په هېـواد کې د تاپي پروژې د عملي چارو پيل کېدو لپاره بشپړ چمتووالی لري او يادې پروژې ته د هېـواد د اقتصـادي زېربنـا د يـوه مهم عنصر په توگه گوري، چې د عملي چارو پيـل يـې د افغانانـو لپاره يو ښـه زېری بولي. څو ورځې وړاندې هم کورنيو چارو او ملي دفاع وزارتونو او د استخباراتو لوی رياست مسؤلينو د ترکمنستان له استازو سره د تاپـي پـروژې د امنيـت په موخه ناسـته درلـوده او دوی تـه يـې د تاپي پروژې د بشپړ امنيت ټينگولو ډاډ ورکړی دی. که اړتيا وليدل شي، اسلامي امارت چمتـو دی چې د يادې پروژې د امنيتي چـارو سـاتلو لپاره يـو ځانگـړی ځواک تشکيل کړي.

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د هېواد بيارغونـه او د اقتصادي زيربنـاوو احياء کول د ځان مسـؤليت گڼـي او باور لري چـې د سـيمې سياسي، امنيتـي او اقتصـادي ښـېرازي د سـيمې ټولـو هېوادونو شريک مسؤليت دی او بايد په گډه اقدامات وکړي.

د افغانسـتان اسلامي امارت له گاونډيو، سـيمې او نړۍ هېوادونو سره پر متقابلو گټـو او گـډو همکاريـو ولاړو اړيکـو غوښـتونکی دی او د اقتصادي همکاريو په مجال کې ټولو ته د امنيت د ټينگښت په اړه خپله ژمنتيا څرگندوي.





## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو

## د ا.ا.ا د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه!

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک له لوري د وروستي خپاره شوي راپور د ټولو مثبتو او پر واقعیتونو ولاړو ټکو هرکلی کوي او دغه اقدام د افغانستان د حقیقي پرمختګ او اقتصادي خوځښت په برخه کې یو واضح انځور ګڼي چې نړۍ ته یې وړاندې کړی.

په دغه راپور کې ویل شوي چې د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې ټیټې شوې، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو اندازه هم د پام وړ زیاته شوې، د دولتي کارمندانو معاشونه پر وخت ورکړل شوي او د ملي عوایدو په کچه کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

د افغانستان اسلامي امارت باور لري، که چېرې د افغانستان پر بانکي سکټور شته بندیزونه لرې او د افغانانو کنګل شوې شتمنۍ ازاده شي، د هېواد اقتصادي وضعیت به له دې هم د ښه والي او استحکام په لور ګړندي ګامونه واخلي او بار به یې د نړیوالې ټولنې له اوږو سپک شي.

د افغانستان اسلامي امارت له ټولو نړیوالو سازمانونو غواړي چې د افغانستان په اړه نړۍ ته هغه پرمختګونه یاد کړي چې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره په افغانستان کې تر سره شوي. په ځانګړي ډول اقتصادي برخه کې، تر څو نړۍ په دې برخه کې د افغانستان له حقیقي وضعیت څخه خبره شي.

د ا.ا.ا پر ټولو نړیوالو سازمانونو او مرستندویه ادارو غږ کوي چې له افغانستان سره د پراختیایي پروژو د تمویل په برخه کې همکاري وکړي چې په پایله کې به یې د بېکارۍ کچه راکمه او د هېواد پر اقتصادي وضعیت به لا ډېر مثبت تاثیر ولري. همدا شان له نړیوال بانک څخه غواړي چې د افغانستان په اړه د واقعیتونو د خپرولو تر څنګ، هغه پروژې چې د دې سازمان له لوري تمویلېدې خو د ا.ا.ا له بیا ځل واکمنېدو وروسته یې کارونه نیمګړي پاتې دي، بېرته پیل او چارې یې بشپړې کړي.



# په پکتیکا کې د زلزله‌ځپلو لپاره

## زرګونه کورونه جوړ او د پاتې هغو د جوړولو چارې روانې دي

تېر 1401 لمریز کال په پکتیکا او خوست ولایتونو کې د سختې زلزلې د رامنځته کېدو له امله په زرګونو هېوادوال شهیدان او زخمیان شول، چې پر دې سربېره په زرګونو کورونه په بشپړ ډول ونړېدل او ځینې هغه یې بیا تر یوې اندازې تخریب شول. له یادو هېوادوالو سره د غم شریکۍ او خواخوږۍ په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یو لوړپوړي حکومتي پلاوي په مشرۍ چې یوشمېر ملي سوداګر او د خیریه بنسټونو استازي هم ورسره وو، یادو ولایتونو ته سفر وکړ. د دغه سفر پر مهال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زلزله ځپلو سیمو ته د بیړنیو مرستو په موخه لسګونه ټنه غذايي مواد، ادویه، البسه او خیمې واستول، چې پردې سربېره یې 53 میلیونه نغدې افغانۍ هم پر زیانمنو شوو کورنیو تقسیم کړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر یادو مرستو سربېره زلزله ځپلو هېوادوالو ته د 1000 ویجاړو شوو کورونو د جوړولو وعده هم ورکړه. د دغو کورونو د جوړولو لګښت د هېواد ملي سوداګرو، د بشري مرستو رسوونکو مؤسسو او ځینو خیریه بنسټونو پر غاړه واخیست، چې په هماغه لومړیو ورځو کې یې د جوړولو کارونه پیل شول. د همدې پروسې د چارو د چټکتیا په موخه محترم ملا صاحب د پېښو د خطرونو کمولو نړیوالې ورځې په مناسبت ټولو هغو مؤسساتو ته چې په پکتیکا او خوست ولایتونو کې د زلزلې له امله زیانمنو شوو هېوادوالو ته یې کورونه جوړول، اعلان وکړ چې دوی ټولو ته پر ساختماني موادو رویالیټي په مکمل ډول معاف ده او له مرسته کوونکو ادارو یې وغوښتل چې د پکتیکا او خوست ولایتونو د زلزله ځپلو لاسنیوی وکړي. پر ساختماني موادو د رویالیټۍ له معافیت وروسته ټولټال په یو وخت کې د 1000 کورونو پر ځای د 8605 کورونو د جوړولو او ترمیم چارې پیل شوې. اوسمهال له دغو کورونو څخه د زرګونو هغو چارې یې بشپړې شوې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د پاتې کورونو د جوړولو او ترمیم چارې روانې دي چې په نږدې وخت کې به یې چارې بشپړې او د هېوادوالو په خدمت کې به ورکړل شي. د افغانستان اسلامي امارت د خپل ولس د خدمت لپاره په ډېر اخلاص او صداقت سره متې رانغاړلې او کوښښ کوي چې هغوی ته د ارام او سوکاله ژوند زمینه برابره کړي.





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د دوحې تړون

## د درېيمې کليزې په مناسبت

### جوړو شوو مراسمو کې ګډون او وينا وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قطر په پلازمېنه دوحه کې له امريکا سره د لاسليک شوي تړون د درېيمې کليزې په مناسبت ارګ کې جوړو شوو مراسمو کې ګډون او وينا وکړه. په دغه نمانځغونډه کې د کابينې محترمو غړو او ډېرى لوړپوړو دولتي چارواکو هم ګډون کړى و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند يادو مراسمو ته د خپلې وينا پر مهال وويل، الحمدلله له ډېرو قربانيو، ستړياوو او زحمتونو وروسته د الله تعالى په مرسته او د دوحې تړون پر اساس په افغانستان کې د شل کلن اشغال پاى ته رسېدو ته زمينه برابره شوه. د کب لسمه د افغانستان په تاريخ کې يوه مهمه ورځ ده، چې پر دې ورځ د اشغال پر تابوت وروستى مېخ ټک وهل شو.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د دوحې مذاکراتو پر مهال د اسلامي امارت سياسي کمېسيون شپه او ورځ پرته له کومې ستړيا د شريعت، پر الله تعالى باندې د پوره باور او ملي ارزښتونو په پام کې نيولو سره له امريکايي لوري سره مذاکرات ترسره کړل. د يادو مذاکراتو پر مهال د اسلامي امارت د ټولو مشرانو او مذاکراتي ټيم د غړو تر منځ پوره اعتماد، اخلاص او صداقت موجود و، پر هره لويه او کوچنۍ خبره د شريعت او ملي ګټو په پام کې نيولو سره مشوره کېدله.

محترم ملا صاحب وويل، د دوحې په تړون کې هېڅ داسې څه نه دي لاسليک شوي چې هغه دې له ملت پټ وي، موږ ته د مذاکراتو پر مهال ډېرو وويل، چې تاسې به حتمن له امريکايانو سره پټې معاملې لرى، ځکه امريکا د نړۍ ستر طاقت دى؛ خو نن مو ثابته کړه چې له امريکا سره هېڅ پټه معامله نه ده شوې، هېڅ اډه او پردى پوځي په افغانستان کې نشته او پر ټول هېواد اسلامي امارت حاکميت لري.

محترم ملا صاحب د دوحې تړون په اړه زياته کړه، اسلامي امارت د دوحې له تړون څخه سرغړونه نه ده کړې، خو برعکس بيا امريکا خپلې کړې وعدې نه دي پر ځاى کړې. د افغانانو ملي شتمني يې کنګل کړې، د اسلامي امارت مشرانو نومونه يې له تور لېست څخه نه دي ايستلي، پر افغانستان يې بنديزونه لګولي او نړۍ يې له اسلامي امارت سره له تعامل څخه ګرځولې. موږ له نړۍ او امريکا سره مثبت تعامل غواړو، دوى بايد پر افغانستان لګېدلي بنديزونه لرې او هرڅه د خبرو له لارې حل کړي.

# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند:



# کرنه
## او د افغانستان
## پر اقتصاد يې اغيزې

ليکوال: فضل ولي شېراني

**په افغانستان کې د کرنې شاليد، د کرنې سکټور د ميکانيزه کېدو اړتيا او ارزښت او د افغانستان په اقتصادي وده کې د دې سکټور رول هغه موارد دي، چې په دې ليکنه کې بحث ورباندې شوی دی.**



افغانستان د کرنې له پاره پراخې ځمکې او مناسب اقلیم لري او تر نیمایي زیات خلک یې پر کرنه او مالداری بوخت دي. کرنه د افغانستان د اقتصادي ودې یو مهم محرک ګڼل کېږي او د دې هېواد په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. کرنه د افغانستان د کورنیو تولیداتو د تولیز ارزښت زیاته سلنه جوړوي او هر کال چې د افغانستان په اقتصادي وده کې زیاتوالی یا کموالی راځي، نو دا تر ډېره د کرنیز سکټور له امله وي. سره له دې چې په سیمه او نړۍ کې کرنه له دودیز حالت څخه راوتلې؛ خو په افغانستان کې لا هم د کرنې د میکانیزه او عصري کولو له پاره کوټلې ګامونه نه دي اخیستل شوي او زموږ کروندګر په دودیزه کرنه لګیا دي. پر افغانستان د پردیو یرغلونو، سیاسي تحولاتو او بې‌ثباتۍ، لکه څنګه چې په نورو برخو خپل سیوري غوړولی و، داسې یې د کرنې په برخه کې هم د پرمختګ مخه ډب کړې وه، چې له امله یې دا برخه هم له پرمختګ پاتې شوه. اوسمهال چې په افغانستان کې د اشغال ټغر ټول شوی او په ټول هېواد کې امن دی، ورسره په مختلفو برخو کې د هېواد د پرمختګ له پاره هیلې هم زیاتې شوې دي. د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو سره د نورو اقتصادي برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم پوره پاملرنه زیاته شوې. په هغو سیمو کې چې شاړې ځمکې زیاتې او د کرکېلې له پاره اوبه نه لري، اسلامي امارت په هغو ځایونو کې د اوبو کانالونو جوړولو ته مخه کړې ده. د قوش تېپې کانال، په تخار کې د نمک آب کانال، فراه کې د بخش اباد بند او نیمروز کې د کمال خان بند د کانالونو پر جوړولو کار روان دی او د جوړولو موخه یې همدا ده، چې د افغانستان هغه کرنیزې ځمکې چې د اوبو د نشتوالي له امله په شاړو دښتو بدلې شوې دي، کرنې ته چمتو او دې برخې ته وده ورکړي.

له دې چارې څخه دوې ګټې ترلاسه کېدای شي، یو به د کرنې په سکټور کې د اوس په پرتله زیاتو خلکو ته د کار زمینه برابره شي او د بېکارۍ ستونزه به ورسره هواره شي، له بل لوري به د هېواد اقتصاد پر خپلو پښو ودرېږي. په افغانستان کې د کرنې شالید، د کرنې سکټور د میکانیزه کېدو اړتیا او ارزښت او د افغانستان په اقتصادي وده کې د دې سکټور رول هغه موارد دي، چې په دې لیکنه کې بحث ورباندې شوی دی.



## د افغانستان

# د کرنې سکټور

افغانستان یو کرنیز هېواد دی او کرنه په دې هېواد کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختیا له پاره یو باالقوه شاخص ګڼل کېږي. د افغانستان د کلیوالي سیمو خلک له پېړیو راهیسې تر ډېره په کروندو کې په کار بوخت دي او تر پنځوس سلنه زیاتې کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې د کرنې له سکټور څخه پوره کوي. کرنه په افغانستان کې د شلمې پېړۍ تر نیمايي پورې په بشپړه توګه دوديزه وه؛ خو د سردار محمد داوود خان د صدارت له دورې راوروسته د کرنې عصري کېدو ته پاملرنه وشوه او په دې برخه کې هڅې پیل شوې. د دې هڅو په لړ کې په افغانستان کې د نږدې څلور زره کرنیزو ترویجي مرکزونو جوړېدل، د اوبو بندونو او کانالونو جوړېدل، د کوپراتیفي ټولنې او کرنیز بانک رامنځته کېدل، د کرنیزو تخمونو د اصلاح مرکزونه جوړېدل، له بهر څخه د اصلاح شوو کرنیزو تخمونو را واردېدل او دې ته ورته ځینې نور کارونه ټول هغه ګامونه دي، چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل وړاندې ترسره شوي وو؛ خو د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل وروسته د افغانستان د نورو سکټورونو ترڅنګ د کرنې سکټور هم سخت اغېزمن شو. په هېواد کې د جګړو له کبله سړکونه، د اوبو لګولو سیستمونه او د کرنې څېړنیز مرکزونه ویجاړ شول. ډېری خلک له هېواده ووتل او خپلې ځمکې یې شاړې پرېښودې. په عموم کې د افغانستان د کرنیز سکټور په برخه کې چې څه نا څه کارونه شوي وو، د هغو ډېری برخې شوروي اتحاد د یرغل پرمهال له منځه لاړې او پاتې یې د امریکایي اشغال په دور کې د اور خوراک شوې.

د شوروي اتحاد تر ماتې او د کورنیو جګړو تر پای تره رسېدو وروسته په افغانستان کې د مرکزي حاکمیت په رامنځته کېدو سره د افغانستان د پرمختګ او سوکالۍ هیلې زیاتې شوې؛ خو په 2001 کال کې امریکا او متحدینو یې پر افغانستان یرغل وکړ او د جګړو تازه مړ شوی اور یې بیا بل کړ او آن شل کاله یې دوام وکړ. په دې شلو کلونو کې د نورو برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم سخت زیانونه واوښتل.

په 1401 ل کال کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره دې برخې ته تر ډېره بریده پام اوښتی دی. هڅه داده چې کرنیز



سکټور بېرته په پښو ودرول شي او له دې لارې د عوایدو کچه لوړه شي. د قوش تېپې کانال، په تخار کې د نمک اب کانال، فراه کې د بخش اباد بند کانالونو، د کمال خان بند کانالونو او په کندهار کې د ظاهر شاهي کانال او یو شمېر هغو کانالونو د پاکولو کار روان دی، چې ډک شوي وو. د دې هر څه موخه همدا ده چې د افغانستان هغه کرنیزې ځمکې چې د اوبو د نشتوالي له امله په شاړو دښتو بدلې شوې دي، کرنې ته چمتو او دې برخې ته وده ورکړل شي.

# د کرنې
## د میکانیزه کولو ارزښت

کرنه د بشر له مهمو کړنو څخه ده چې مخینه یې زرګونو کلونو ته رسېږي. په دې برخه کې انسانانو تل هڅه کړې چې له بېلابېلو وسایلو څخه په استفادې د کرنې په برخه کې آسانتیاوې رامنځته او د کرنیزو حاصلاتو کچه لوړه کړي. د بشر د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو دا هڅې ګام په ګام د عصري او میکانیزه کرنې پر رامنځته کېدو تمامې شوې، چې ورسره د کرنې په سکټور کې پرمختګ رامنځته شو. په میکانیزه کرنه کې د نویو وسایلو او تجهیزاتو څخه ګټه پورته کېږي، لکه د حیواني سرې پر ځای د کېمیاوي سرې کارول یا د کروندو د مختلفو ناروغیو لپاره له درملو کار اخیستل او یا هم د هغو فزیکي کارونو لپاره له ماشینونو کار اخیستل چې په دودیزه کرنه کې به انسانانو ترسره کول. دا راز د کرنیزو محصولاتو د کیفیت لوړېدل او د لګښتونو کموالی د میکانیزه کرنې له ښېګڼو څخه دي. په اوسمهال کې ډېری پرمختللیو هېوادونو د خوراکي محصولاتو د تولید په برخه کې د کرنې د میکانیزه کولو له لارې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. په نننۍ نړۍ کې د کرنې سکټور میکانیزه کول، د کرنیزو محصولاتو په تولید کې یوه اړتیا ده او څوک ترې انکار نه شي کولای.



## د کرنې د میکانیزه کولو د ارزښت په باب لاندې څو موارد د پام وړ دي:



### د اوبو مدیریت؛

د کرنې په میکانیزه کولو سره، د کروندو د اوبولو په برخه کې له نویو کرنلارو څخه کار اخیستل کیږي، چې له دې سره له یوې خوا د اوبو د بېځایه لګښت مخه نیول کیږي او له بلې خوا کروندو ته په ښه توګه اوبه رسیږي.



### د محصولاتو زیاتوالی؛

د کرنې په میکانیزه کولو سره د کروندو ښه ساتنه کېږي، د نورو سرو پر ځای کېمیاوي سرې ورکول کېږي، د مختلفو ناروغیو لپاره د اړینو درملو په کارولو سره د محصولاتو د تولید کچه هم لوړیږي.



### د محصولاتو د کیفیت ښه کېدل؛

د کرنې له میکانیزه کولو سره کرنیز تخمونه اصلاح کېږي او د کرنیزو توکو کیفیت لوړیږي. د ښه کیفیت کرنیز توکي په بازار کې د ځان له پاره ښه مارکېټ پیدا کوي.



## د وخت او تخمونو د ضایع کېدو مخنیوی؛

په دودیزه کرنه کې د تخمونو د ضایعه کېدو کچه لوړه وي، خو په میکانیزه کرنه کې چې د کښت له ماشینونو ګټه اخیستل کېږي، د تخمونو د ضایعه کېدو کچه ټیټه وي. دغه راز د کرنې په میکانیــزه کېدو سره هغه چارې چې پخوا به انسانانو ترسره کولې اوس یې ماشینونه ترسره کوي، چې له دې سره ډېر کار په لږ وخت کې ترسره کېږي.

په یادو مــواردو سربېره میکانیــزه کرنه د دودیزې کرنې په پرتله یو لړ نورې ښېګڼې هــم لري، چــې له هغې ډلې یــوه هم په ځمکه کې د سخت کار مخنیوی دی. په میکانیــزه کرنه کې ډېــرې بشري قوې ته اړتیا نه لیدل کېږي، خو دودیزه کرنه بیا له بشري قوې پرته ناشــونې ده. سره له دې چــې میکانیــزه کرنه د دودیــزې هغې په پرتله زیاتې ښــېګڼې او ګټې لري، خو په ټوله کــې د کرنــې پراختیــا او پرمختګ کــولای شي، د یوه هېــواد اقتصاد ته وده ورکړي.



# د کرنې اقتصادي اړخ

د کرنې سکټور په افغانستان کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختیا له پاره یوه بالقوه برخه بلل کېږي او د دغه هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم لامل دی. د افغانستان تر نیمایي زیات نفوس په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او تر ډېره بریده پر کرنیزو چارو بوخت دي او له نیماي زیاته سلنه کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې له همدې لارې پوره کوي. دغه سکټور د خلکو له پاره په لوړه کچه کاري فرصتونه برابروي چې د کاري زمینې په برابرېدو سره د خلکو زیاتې اقتصادي ستونزې هوارې او په عوایدو کې لوړوالی راځي.

په تېرو کلونو کې د افغانستان د پخې اقتصادي ودې یو ستر لامل د کرنې سکټور د ونډې کمښت ګڼلی شو، ځکه په دې کلونو کې په کورني ناخالص تولید کې د کرنې سکټور ونډه ټیټه وه. په دې موده کې د کورنیو ناخالصو عوایدو په برخه کې د کرنې ونډه له 22 نه تر 33 سلنې پورې وه، سره له دې چې دغه سلنې په هېواد کې د وچکالیو له امله نزولي او صعودي حالت درلود؛ خو بیا هم د هېواد په صادراتو کې د کرنیزو محصولاتو ونډه زیاته وه. تیر کال د کرنې د کورنیو ناخالصو تولیداتو ټولیز ارزښت 33.48 سلنه و، چې دا یو ستر پرمختګ دی او زیاته برخه یې کرنه جوړوي.

د عوایدو دغه زیاتوالی په صادراتو پورې تړلی دی، کله چې د یوه هېواد کورني ناخالص تولیدات زیاتېږي، ورسره د صادراتو په برخه کې هم زیاتوالی راځي. د بېلګې په توګه په 1401ل کال کې له افغانستان څخه د شاوخوا 2 میلیارد ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي. د دغو توکو 97 سلنه پاکستان، هند، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، چین او ترکیې ته او پاتې 3 سلنه یې د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو 63سلنه جوړوي هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، انار، سبزي، ممیز(کشمش)، وچ انځیر، جلغوزي، زردالو او پاتې 37سلنه نور بېلا بېل توکي دي.

په صادرو شویو توکو کې موږ وینو چې زیاتره یې کرنیز محصولات دي. له دې څخه جوتیږي چې د عوایدو په برخه کې زیاته ونډه د کرنیزو محصولاتو ده. که چېرې د کرنې سکټور ته پاملرنه وشي او په دې برخه کې پانګونه وشي، نو له شک پرته چې د افغانستان اقتصاد به ډېر ژر پر خپلو پښو ودرېږي. که چېرې د افغانستان کرنه له دودیز حالته ووځي او په میکانیزه ډول رامنځته شي، نو د کرنیزو محصولاتو په برخه کې به د پام وړ زیاتوالی راشي او له دې سره به له یوه لوري اقتصادي وده رامنځته شي او له بل لوري به د کلیوالي سیمو په ګډون چې زیاتره اوسیدونکي یې پر کرکیله بوخت دي، د کار زمینه ورته برابره شي.



## پایله

افغانستان د جغرافیایي موقعیت او جوړښت له امله یو ځانګړی اقتصادي ارزښت لري. کرنه په افغانستان کې د اقتصادي ودې یو مهم محرک ګڼل کېږي. د افغانستان تر نیمایي زیات خلک پر کرنه او مالداری بوخت دي. همدا لامل دی چې د افغانستان په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. کرنه د افغانستان د کورنیو تولیداتو د ټولیز ارزښت زیاته برخه جوړوي او هر کال چې د افغانستان په اقتصادي وده کې زیاتوالی یا کموالی راځي، نو دا تر ډېره د کرنیز سکټور له امله وي. د ښېړنو له مخې افغانستان د کرنې له پاره پراخې ځمکې لري او هوا یې هم تر ډېره برېده د دې له پاره مساعده ده چې کرنه پکې ښه وده وکړي. خو په افغانستان کې تیرو ناخوالو او کړکیچونو په دې برخه کې د پرمختګ مخ ډب کړې ده. په تېر کې د کرنې برخې ته چندان پاملرنه نه ده شوې او د عصري کېدو په برخه کې یې کوټلي ګامونه نه دي پورته شوي، چې وکولای شي د هېواد د کر وړ ټوله ځمکه پر کرنیزه ځمکه بدله شي. کرنه د بشر له مهمو کړنو څخه ده چې مخینه یې زرګونو کلونو ته رسېږي. د کرنې له پیل بیا تر دې مهاله انسانانو تل هڅه کړې چې له بېلا بېلو وسایلو څخه په استفادې سره د کرنیزو حاصلاتو کچه لوړه کړي. دغه هلې ځلې په پای کې د عصري او میکانیزه کرنې پر رامنځته کېدو تمامې شوې. په میکانیزه کرنه کې له نویو وسایلو او تجهیزاتو څخه ګټه پورته کېږي. پر دې سربېره، دغه سکټور د خلکو له پاره کاري فرصتونه برابروي او د کاري زمینې په برابرېدو سره به د خلکو زیاتې اقتصادي ستونزې هوارې او په عوایدو کې به یې لوړوالی راشي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د کرنې د پراختیا په برخه کې کوټلي ګامونه پورته او د کرنیزو محصولاتو کچه لوړه، بازار ورته پیدا او له دې سره د عوایدو کچه زیاته کړي. په دې برخه کې کار ته اړتیا ده. اسلامي امارت د یو مسؤل حکومت په توګه که غواړي د کرنې سکټور وده وکړي، نو پکار ده چې په دې برخه کې پانګونه راجلب، د اوبو مدیریت یې په سم ډول ترسره او د کرنې د میکانیزه کولو له پاره کوټلي ګامونه پورته کړي. که دا چارې ترسره شي، نو له شک پرته چې افغانستان به د اقتصادي ستونزو د هواري ترڅنګ یو پیاوړی اقتصاد هم ولري.



# سپارښتنې

## ۱

## د کرنې سکټور ته لومړیتوب ورکول

د افغانستان اقتصاد پر کرنه ولاړ دی، له همدې امله اړتیا ده چې اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې د نورو سکټورونو په پرتله دې برخې ته زیاته پاملرنه وکړي. له کروندګرو سره مرستې وکړي، کرنیز بانک جوړ کړي، کرنه میکانیزه کړي، سړې خونې جوړې او کرنیزو محصولاتو ته مارکیټونه پیدا کړي. د دې ترڅنګ د کرنې سکټور په برخه کې بهرنۍ پانګونه راجلب کړي.

## ۲

## د اوبو مدیریت

په افغانستان کې د کرنې له پاره اوبه کمې نه دي، خو دا چې زیاتې ځمکې شاړې پاتې دي، لامل یې د اوبو ناسم مدیریت دی. که د اوبو سم مدیریت وشي، نو له شک پرته چې د کرنې وړ ټولې شاړې ځمکې به پر سمسورو او کرنیزو ځمکې بدلې شي.



## ٣

## د کرنیزو محصولاتو د کیفیت لوړول

د افغانستان کرنیز محصولات د کور دننه په سمه توگه نه پروسس او نه بسته بندي کېږي، چې له امله يې په نړۍ کې سم مارکېټ نه شي پيدا کولی. له همدې امله په نړيوالو بازارونو کې د نورو هېوادونو له توکو سره سيالي نه شي کولای. اسلامي امارت که دې برخې ته پاملرنه وکړي، نو له شک پرته چې د محصولاتو په بسته بندۍ کې به ښه والی راشي او له دې سره به په نړيوالو بازارونو کې خپل ځای پيدا کړي.

## ٤

## کرنیزو محصولاتو ته مارکیټ موندل

اوسمهال زموږ زيات کرنيز محصولات د يو شمېر هېوادونو مارکيټونو ته ځي، خو حکومت بايد هڅه وکړي چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه کرنيزو محصولاتو ته مارکيټ پيدا کړي. که چېرې زموږ د کرنيزو محصولاتو له پاره مارکېټ پيدا شي، نو د دې محصولاتو په صادراتو کې به نور هم زياتوالی راشي او ورسره به عوايد لوړ شي.



# ملي تدارکاتو کمېسیون؛

**تر اوسه پورې د میلیاردونو افغانیو په ارزښت لسګونه بېلا بېلې پروژې منظورې کړې دي**

**لیکوال: امان الله حنیفي**

د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبةالله اخوندزاده حفظه‌الله د 202 مې ګڼې حکم پر اساس د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ او پر فعالیت یې پیل وکړ. د عالیقدر امیرالمؤمنین د حکم پر اساس د ملي تدارکاتو کمېسیون مشري د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته سپارل شوې. د ملي تدارکاتو کمېسیون د جوړېدو او بیا فعالیت موخه د شفافیت تامینول، مؤثر خدمتونه وړاندې کول، تدارکاتي ستونزو ته د مناسبو حللارو موندل او د تدارکاتي چارو فعالیت او تنظیم دی. د مالیې او اقتصاد سرپرست وزیران، د چارو ادارې لوی رئیس او د پروژې پر بنسټ د اړوند سکتوري وزارت سرپرست د دغه کمېسیون غړي دي. د کابل تېرې ادارې پر مهال هم د ملي تدارکاتو کمېسیون فعالیت درلود، خو د فساد او بې کفایتۍ له امله هغسې چې لازمه وه، د دغه کمېسیون له فعالیت څخه هېوادوال نه وو خوښ. هېوادوالو اعتراض کاوه چې په هغه کمېسیون کې فساد، ملګرتیا، بډې او په منظور شوو پروژو کې د سهمیې اخیستل اوج ته رسېدلي وو او دې چارې د ډېریو پروژو کارونه له ځنډ او خنډ سره مخ کړي وو. د اسلامي امارت په بیاځلې واکمنېدو سره په لومړیو وختونو کې د دغه کمېسیون فعالیت ځنډېدلی و، خو اړتیا ته په کتو او د سالمې رهبرۍ تر ټاکلو وروسته یې بیاځلې فعالیت پیل کړ، چې یوازینۍ موخه یې د لویو پروژو په منظورۍ، پلي کولو او تدارکاتي چارو کې د شفافیت تأمین، د مؤثرو خدمتونو وړاندې کول او په تدارکاتي چارو کې چټکتیا ده. په همدې موخه د دغه کمېسیون له جوړېدو وروسته د روان 1401 لمریز کال د لیندۍ میاشتې په 22مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې د ملي تدارکاتو کمېسیون لومړنۍ غونډه ترسره شوه. د غونډې په پیل کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال او د ملي تدارکاتو کمېسیون رئیس محترم ملا عبدالغني برادر اخوند خبرې وکړې او د غونډې له ګډونوالو یې د دې ملي او مهمې پروسې په پر مخ بېولو کې د ګډې همکارۍ غوښتنه وکړه. وروسته د ملي تدارکاتو ریاست د مسؤلینو له لوري د دغه ریاست د تګلارې او اصولو په اړه د غونډې له ګډونوالو سره معلومات شریک شول. د ملي تدارکاتو کمېسیون په لومړۍ غونډه کې له اجنډا سره سم پر 13 قراردادونو او



تدارکاتي موضوعاتو باندې خبرې وشوې.

په یادو قراردادونو کې چې د مالیې وزارت، عامې روغتیا وزارت، کابل ښاروالۍ او برېښنا شرکت له لوري د دغه کمېسیون ریاست ته وړاندې شوي وو، د اوو پروژو قراردادونه منظور، د پنځو پروژو قراردادونه فسخه او د یوې پروژې قرارداد بیا وځنډول شو. د خیرخانې کوتل د سړک جوړول، له کوټه سنګي(میرویس میدان) څخه تر کمپنۍ څلورلارې پورې د سړک د پاتې برخو تکمیلول، د لغمان د برېښنا امریت د مهترلام بابا د سب سټېشن د احاطې جوړول، د کابل ولایت په شېرمه او دیارلسمه ناحیه کې د کانال جوړول او د کابل ښاروالۍ اړوندو پروژو د ساختماني موادو اخیستل هغه پروژې وې، چې د ملي تدارکاتو کمېسیون په لومړنۍ غونډه کې د 700 میلیونو افغانیو په ارزښت منظورې او اړوندو وزارتونو او ادارو ته یې د پلي کولو په اړه لازمې لارښوونې وشوې.

همدا راز په لومړۍ غونډه کې پرېکړه وشوه چې له دې وروسته هېڅ وزارت او اداره نه شي کولای چې د ملي تدارکاتو کمېسیون له منظورۍ پرته خپلې اړوندې پروژې په قرارداد ورکړي. ټول وزارتونه او ادارې مکلفې دي چې د خپلو پروژو قراردادونه د ملي تدارکاتو ریاست له لارې د کمېسیون له منظورۍ وروسته لاسلیک او د اجرا په موخه یې وروستي پړاوونه پر مخ یوسي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون دویمه نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، چې له اجنډا سره سم پر 31 تدارکاتي موضوعاتو باندې خبرې وشوې. یاد موضوعات د بېلابېلو وزارتونو او ادارو اړوند وو چې د زېربنا، روغتیا، خوراکي توکو او خدمتونو پروژې پکې شاملې وې. په یاده غونډه کې د کابل ښاروالۍ لخوا د کابل ولایت په بېلابېلو سیمو کې د سړکونو جوړولو قراردادونو د منظورۍ وړاندیزونه چې د ملي تدارکاتو کمېسیون ته یې وړاندې کړي وو؛ ځینې منظور او د ځینو هغو په اړه یې بیا کابل ښاروالۍ ته اړینې لارښوونې وشوې. د کمېسیون په دغه ناسته کې د فراه ولایت د بخش آباد بند د انحرافي تونلونو د جوړولو پروژه، د هرات ولایت نورالجهاد سب سټېشن د پاتې برخو جوړولو پروژه، د کندهار او هرات په هوايي ډګرونو کې د خدماتو وړاندې کولو پروژې، د عدلیې وزارت اړوند د سمسورتیا پروژه، د مالیې وزارت د دوه قلمه روغنیاتو د برابرولو او تدارک پروژه، د کورنیو چارو وزارت اړوند د 12 قلمه البسې برابرولو او تدارک پروژه او د افغانستان برېښنا شرکت اړوند په ننګرهار ولایت کې د ساختماني موادو د برابرولو او تدارک پروژه له مفصل بحث او ارزونې وروسته منظور او مسؤلینو ته یې لازمې لارښوونې وشوې. دغه منظورې شوې پروژې په ننګرهار، فراه، هرات، کابل، کندهار او لغمان ولایتونو کې پلي کېږي، چې ټولیز ارزښت یې دوه میلیارد او 480 میلیونه افغانیو ته رسیږي او ټوله بودیجه یې د افغانستان اسلامي امارت له لوري ورکول کېږي. د یادو پروژو په پلي کېدو سره به خلکو ته د سړک، برېښنا، د اوبو ذخیرې، مجهزو تحویلخانو، ډاډمن او جوړ چاپېریال، شنې ساحې او څښاک پاکو اوبو په برخو کې اسانتیاوې رامنځته شي.



# د ا.ا.ا له لوري پیل شوې زېربنايي پروژې او وروستي کاري پرمختګونه

لیکوال: احمدشاه راشد

دا چې زموږ په هېواد کې د لويو زېربنايي پروژو جوړولو ته څومره اړتيا ده؟ څرنګه کولای شو چې په زېربنايي پروژو کې کورني او بهرني پانګوال پانګونې ته وهڅوو او دغه بنسټيزې پروژې زموږ پر اقتصاد څومره اغېزې ښندي؟ په دې لیکنه کې پرې بحث شوی دی.



## مقدمه

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په بې‌مخينې ډول د هېواد په کچه لويې زېربنايي پروژې پيل شوې دي. په هلمند کې د کجکي بند د دوهم فاز جوړول و چې له کلونو يې کارونه پيل شوي، خو د فساد او نه مديريت له امله يې کارونه نيمګړې پاتې وو. د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره يې کارونه چټک، د 11 مياشتو په جريان کې يې کارونه تکميل او د 1401 لمريز کال د اسد مياشتې په 5 مه نېټه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د دغې پروژې په پلي کېدو سره د کجکي بند د برېښنا ظرفيت له 51 څخه 151ميګاواټو ته لوړ شوی او پر هلمند سربېره کندهار ته هم برېښنا ورکوي. د کجکي بند د دوهم فاز له پرانيستلو وروسته، د کمال خان بند د پاتې کارونو او د پراختيا هوکړه‌ليک هم له ملي پراختيا شرکت سره لاسليک شو. د دغه هوکړه‌ليک له مخې به ملي پراختيا شرکت د کمال خان بند پاتې کارونه د روان لمريز کال په جريان کې بشپړوي. همدا ډول د فراه بخش آباد بند د پاتې چارو بشپړېدو ته د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی او په نېږدې راتلونکي کې به يې چارې بشپړې شي. دا چې زموږ په هېواد کې د لويو زېربنايي پروژو جوړولو ته څومره اړتيا ده؟ څرنګه کولای شو چې په زېربنايي پروژو کې کورني او بهرني پانګوال پانګونې ته وهڅوو او دغه بنسټيزې پروژې زموږ پر اقتصاد څومره اغېزې ښندي؟ په دې ليکنه کې پرې بحث شوی دی.

## په افغانستان کې د لويو زېربنايي پروژو اړتيا

افغانستان چې د نړۍ د درېيمه درجه هېوادونو په کتار کې راځي د لويو زېربنايي پروژو جوړولو اړتيا تر بل هر وخت زياته په کې محسوسېږي. عوامل يې واضح دي، د تېرو څو لسيزو له امله د بهرنيو اشغالګرو مداخلې، جګړې، اداري فساد او د سالم مديريت نشتون هغه عوامل وو چې افغانستان يې خپل ستراتېژيک موقعيت ته په کتو او د پرېمانه طبيعي زېرمو په درلودو سره بيا هم د نړۍ غريبو او وروسته پاتې هېوادونو په کتار کې درولی دی. د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ په غوره کولو سره هوډ لري چې د هېواد له ستراتېژيک موقعيت او له طبيعي سرچينو څخه د ښې استفادې او درست مديريت پر مټ د هېواد په آبادۍ کې ترې ګټه واخلي. کورنۍ او بهرنۍ پانګونې او د کانونو کيندنې ته يې په مسلکي او معياري ډول زمينه برابره کړې، د اوبو مديريت، انرژۍ توليد، لويو لارو بيارغونه او د سيمه‌ييز اتصال په برخه کې يې هڅې ګړندۍ کړې دي چې ښه مثال يې د مرکزي او سويلي اسيا ترمنځ د ټرانزيټ زياتوالی، سويلي اسيا ته د افغانستان له خاورې د مرکزي اسيا د ګاز او برېښنا انتقالېدو پيلېدل دي.



# په هېواد کې پیل شوې لویې زېربنایي پروژې



## د قوش‌تېپې کانال پروژه:

د هېواد په شمال کې د سلګونو زره هکتاره ځمکې د خړوبولو لپاره پلان شوې ده او عملي چارې یې د 1401لمریز کال په لومړیو کې پیل شوې دي. د قوش‌تېپې کانال پروژه چې د هېواد په سطحه یوه له ملي او حیاتي پروژو څخه بلل کېږي، د بلخ ولایت له کلدارې ولسوالۍ پیل شوې او د جوزجان ولایت څخه په تېرېدو د فاریاب ولایت تر اندخوی ولسوالۍ پورې غځېږي. ټول‌ټال اوږدوالی یې 285 کیلومترو ته رسېږي، عرض یې 152 متره دی او ژوروالی یې له 8.5څخه تر 12.5 مترو پورې دی. په درېیو فازونو کې ډیزاین شوې او کارونه یې د ملي پراختیا شرکت له لوري پر مخ بېول کېږي. د لومړي فاز چارې به یې په نېږدې راتلونکي کې بشپړې شي. زرګونو کسانو ته د کاري زمینې برابرولو ترڅنګ زرګونه ماشینري هم پکې مصروف ده. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د کرنې وړ ځمکه 9.61مېلیون هکتاره ده چې دا بیا د افغانستان د ټولې ځمکې 14.73 سلنه جوړوي. د افغانستان له دغه کرنې‌وړ ځمکې څخه، یوازې شاوخوا 5.324 مېلیونه هکتاره ځمکه کرل کېږي او پاتې 4.286 مېلیونه هکتاره د کرنې‌وړ ځمکه همداسې پاتې ده. دا چې په افغانستان کې د کرنې‌وړ ځمکې څخه 4.28 مېلیونه هکتاره ځمکه همداسې شاړه پاتې کېږي، یو عمده لامل یې د اوبو کمښت دی چې د دې کانال په جوړېدو او په دې برخه کې د نورو زېربنایي پروژو په پیل او جوړېدو سره به دې ستونزې ته هم د پای ټکی کېښودل شي.



## د کجکي د دوهم فاز پرانیسته:



د دې پروژې په پرانیستلو سره د کجکي برېښنا ظرفیت له 51 مېگاواټو څخه 151 مېگاواټو ته لوړ شو چې د هلمند سربېره کندهار ته هم برېښنا ورکوي. د افغانستان اسلامي امارت په کور دننه برېښنا تولید لپاره هڅې گړندۍ کړې دي چې د کجکي بند د دوهم فاز په گټې اخیستنې سربېره په جوزجان ولایت کې له طبیعي گاز څخه د برېښنا تولید لپاره د کار پیل، همدارنگه په هرات ولایت کې د باد له انرژۍ څخه د 200 مېگاواټه برېښنا تولید او دېته ورته نورو برخو کې د برېښنا تولید یې له لومړیتوبونو څخه دي. د روان لمریز کال د ثور میاشتې په 21مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د صنعت اوونۍ نمانځلو په مناسبت د کابل نړیوال نندارتون پرانیست غونډه کې وویل: له همدې ځایه ټولو هېوادوالو او په ځانگړي ډول صنعتکارانو ته زېرى ورکوم چې ژر به په کور دننه د تولید شوې کافي برېښنا څښتنان واوسو. اوسمهال افغانستان د خپلې اړتیا وړ یوازې 20 سلنه برېښنا په هېواد کې دننه تولیدوي او 80 سلنه له گاونډیو هېوادونو څخه واردوي. په دې توگه هر کال سلگونه میلیون ډالره د برېښنا پر واردولو لگول کېږي. دا په داسې حال کې چې افغانستان په خپله د برېښنا تولیدولو ډېر فرصتونه او وړتیاوې لري چې د برېښنا تولید مجموعي ظرفیت یې له 300 زره میگاواټه زیات دی. 222زره میگاواټه یې لمریزه، 66 زره میگاواټه یې بادي، 23زره میگاواټه یې د آبي او 4زره میگاواټه یې بیوماس برېښنا ده، له اوبو څخه د برېښنا تولیدولو یوه بله گټه د اوبو د زېرمه کولو هم ده چې پورته ورته اشاره وشوه.

## د لویو بندونو (کمال خان، شاه و عروس او بخش آباد) تکمیلول:

د کمال خان بند پاتې چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوې چې په نېږدې راتلونکي کې به بشپړې شي. د چارو په بشپړېدو سره به 52 مېلیون مترمکعب اوبه زېرمه، 174000زره هکتاره ځمکه به خړوبه او شاوخوا 9مېگاواټه برېښنا به تولید کړي. همدارنگه د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس، د لغمان شاهي کانال او د





سروبي 2 برېښنا بند ابتدایي سروې هم پیل شوې ده. د شاه و عروس بند پاتې چارې هم پیل شوې او په نېږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د دې بند په جوړېدو سره به په کلنۍ ډول د کابل ښار لپاره 5 میلیون مترمکعب د څښاک اوبه برابرې شي، 2700هکتاره کرنیزې ځمکې به خړوبې او 1.2 میګاواټه برېښنا به تولید کړي. د بخش آباد بند پاتې چارو لومړني کارونه هم پیل شوي دي چې په بشپړېدو سره به یې په کلنۍ ډول 1360 مېلیون متر مکعب اوبه زېرمه شي، تر 100 زره هکتاره د زیاتو ښارو دښتو او ځمکو د خړوبولو وړتیا لري، 27 مېګاواټه برېښنا تولیدوي. دغه بند به تر ځمکې لاندې اوبو زېرمې تغذیه کړي او د سیلابونو په کنټرول او سطحي اوبو په مدیریت کې ارزښتناک رول درلودای شي.

## په پیروزي ښارګوټي کې د صنعتي پارک جوړول:

د 1401لمریز کال د ثور میاشتې په 9مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې په پیروزي ښارګوټي کې د صنعتي پارک جوړولو پرانیسته وشوه، چې تر دې مهاله د دغه صنعتي پارک توپوګرافي سروې بشپړه شوې، د ماسټر پلان ډیزاین تکمیل شوی، د داخلي او بیرونیو سړکونو ډیزاین یې شوی، د اوبو رسونې، کانالیزاسیون او برېښنا رسونې د ډیزاین چارې بشپړې شوې دي. د پروژې لپاره لومړني ساختمانونه جوړ شوي، د اوبو څاګانې کیندل شوې او د احاطوي دیوالونو د جوړولو کارونه هم پیل شوي دي. دغه راز د ساختماني او غذایي موادو د تولیدي بلاکونو، د لوژستیکي موادو عرضه کولو مرکز، ګدامونه، د لابراتوارونو تعمیر، د فني ښېړنو او حرفوي زده کړو مرکزونه، د لمریزې برېښنا د تولید او توزیع ساحې، روغتیایي کلینیک، د صنعتي جامو د تولید بلاک، طعام خوري او ورزشي سالون، د ساتنې او مصؤنیت دفتر، بڼ او تفریح ځای، تدارکاتي ساحې او د خامو موادو د ګدامونو جوړولو کارونه هم تر ډېره حده ترسره شوي دي. په دغه صنعتي پارک کې د 216 مېلیون ډالرو په ارزښت پانګونې سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو 150 کوچنۍ او متوسطې فابریکې جوړېږي. د دې صنعتي پارک په تکمیلېدو سره 13600 کسانو ته په دایمي او تر 30000 ډېرو ته په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي. په بشپړېدو سره به یې هېواد ته د زیاتو وارداتو مخه ونیول شي او کورني تولیدات به وده ورسره وکړي. په بازارونو کې به د ډېری خوراکي او غیر خوراکي توکو قیمتونه ټیټ شي، سلګونه هېوادوال به حرفوي زده کړې وکړي په ټوله کې به د پر ځان بسیاینې په برخه کې یو بل اساسي ګام واخیستل شي. د یادولو وړ ده چې په پیروزي ښارګوټي کې پر یاد صنعتي پارک سربېره؛ ښوونیز مرکزونه، سوداګریز او د هستوګنې بلاکونه، شنې ساحې، مسجدونه او تفریحي پارکونه هم شامل دي.









## په هېواد کې له بهرنيو ځواکونو څخه پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېږي

د اقتصادي کمېسيون د پرېکړې پر اساس له بهرنيو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر اقتصادي زونونو بدلېږي. يادې نظامي اډې چې پر کابل سربېره پروان، کندهار، هرات، بلخ، ننګرهار او ځينو نورو ولايتونو کې دي، په نېږدې راتلونکي کې به پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلې شي. دغه نظامي اډې د پراخو سيمو پر درلودو سربېره د اقتصادي چارو لپاره په لازمو امکاناتو سمبالې دي او د لومړنيو څېړنو پر اساس د ځانګړو اقتصادي زونونو لپاره مناسبې بلل شوې دي.

ځانګړي اقتصادي زونونه؛ د مستقيمې بهرنۍ پانګونې د راجلبولو، د صنعتي کېدو پر لور د چټکو ګامونو اخيستو، په پراخه کچه د کاري زمينې برابرولو او د چټک اقتصادي پرمختګ لپاره په نړۍ کې يو منل شوی ميکانيزم دی، نو له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت وپتېيله چې له بهرنيو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلې کړي.

## د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد

د 1401 لمریز کال د مرغومي په 15مه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او CAPEIC چینایي شرکت ترمنځ د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد لاسلیک شو. قراردادي شرکت به په یو کال کې تر 150 مېلیون ډالرو پانګونه کوي. په درېیو کلونو کې به دغه اندازه 540 مېلیونو ډالرو ته لوړېږي. د قرارداد له مخې به اسلامي امارت 20 سلنه شریک وي چې دا سهم او اندازه به تر 75 سلنې پورې پورته کېږي. همدارنګه د تېلو استخراج ورځنۍ کچه به له 1000 ټنو پیل او د وخت په تېرېدو به یاده اندازه زیاتېږي. په دغه پروژه کې په مستقیم ډول 3000 افغانانو ته د کار زمینه برابرېږي. د تېلو د استخراج او اکتشاف ساحې ټولیز مساحت 4500 کیلومتر مربع دی چې د سرپل، جوزجان او فاریاب ولایتونو د قشقري، زمردسای، بازارکمی، آق دریا او انګوت سیمې پکې شاملې دي. په 5 اکتشافي سیمو کې د تېلو کچه 87 میلیون بېلره اټکل شوې چې د نورو ساحو په اکتشاف سره به د قشقري د نفت او ګازو پروژې ورځنی تولید له 200 ټنو څخه 1000 ټنو ته لوړ شي. یوه مهمه ماده چې له چینایي کمپنۍ (CPEIC) سره په قرارداد کې ځای پرځای شوې، داده که یاد شرکت تر یوه کال پورې هغه ټول مواد او موارد پوره نه کړل چې په قرارداد کې یې ژمنه کړې، قرارداد به په اتومات ډول فسخ کېږي.





## په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې شته اسانتیاوې:



1 له طبیعي او پراخو سرچینو څخه بډایه هېواد؛

2 د پانګونې ملاتړې حکومت؛

3 ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک؛

4 د سوداګرۍ او کاروبار لږ لګښتونه؛

5 د سیمه‌ییزو اړیکو له لارې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی؛

6 او د سوداګرۍ په برخه کې اسانتیاوې، د پانګونې اسانه قوانین او په زړه پورې مالیاتي کڅوړې.

7 د سوداګریزو شخړو حل مرکز؛

8 د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب؛

9 سرتاسري امنیت؛

10 دوه اړخیز او څو اړخیز سوداګریز تړونونه؛

11 یو نا کارول شوی بازار چې د پام وړ لږ شمېر سیالان او د سوداګرۍ ترسره کولو لپاره پراخه چاپېریال لري؛

دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، کورني او بهرني پانګوال دې ته را مات کړي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. په افغانستان کې پانګونه به له یوه لوري د هېواد له بیارغونې سره مرسته وکړي او له بل لوري به اقتصادي ټیکاو رامنځته او اقتصاد به ورسره وغوړېږي.



## د لویو زېربنايي پروژو لپاره د پانګونې راجلبول

په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه فرصتونه شته؛ خو د دغو لویو زېربنايي پروژو جوړېدنه بیا ډېر مالي ملاتړ او سرچینو ته اړتیا لري چې په اوسنیو شرایطو کې دا بیا د افغانستان اسلامي امارت او حکومتي بودیجې په وس کې نه ده. د بېلګې په ډول په لویو زېربنايي پروژو مېلیاردونو ډالره لګښت راځي چې په اوسنیو شرایطو کې حکومت نه شي کولای چې د عادي بودیجې ترڅنګ پر دې کچه پراختیايي بودیجه هم تمویل کړي. په بل اړخ کې بهرنیو پانګوالو په دې برخه کې پانګونې ته زړه ښه کړی او د افغانستان اسلامي امارت هم دوی ته په دې برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دي، خو یوازینۍ ستونزه چې په دې برخه کې ده هغه د امریکا له لوري پر افغانستان مالي او پر بانکي سکټور بندیزونه دي چې بهرني پانګوال یې له یو لړ ستونزو سره مخ کړي دي. اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په غوره کولو سره د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې په برخه کې د سهولتونو رامنځته کولو ته ژمن دی او د سوداګریزو چارو لپاره یې مصؤن چاپېریال برابر کړی. کورنۍ او بهرنۍ پانګونه کولای شي د اقتصادي ودې، کارموندنې په زیاتوالي، انفلاسیون کنټرول، د اسعارو په ثبات، د مالیاتو له لارې د عوایدو په زیاتوالي، د وارداتو په کمولو او د صادراتو په زیاتولو، نوښت، پرمختللې ټکنالوژۍ ته زمینه برابرېدو او په ټوله کې د هېواد د اقتصادي ثبات سبب وګرځي. اسلامي امارت د انرژۍ او برېښنا، کانونو، کرنې، ترانسپورټ، روغتیا او معلوماتي ټکنالوژۍ په سکټورونو کې پانګونه خپل لومړیتوب ګڼي او په دې برخه کې یې هر ډول سهولتونه برابر کړي دي. پورتنیو موضوعاتو ته په کتو سره هیلې راټوکېدلې او افغانستان د اقتصادي ثبات پر لور حرکت پیل کړی دی.



## پایله

د دوه لسیزو اشغال له پای ته رسېدو وروسته په داسې هېواد کې چې هغه نوی له جګړو راوتلی وي هلته معمولاً تر ډېره بریده پانګونه په ساختماني کارونو، کرنې، صنعت او خدماتو کېږي. افغانستان هم له دې قاعدې مستثنا نه دی. د افغانستان اسلامي امارت هم په همدې سکتورونو کې پانګونې ته اولویت ورکړی او پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو یې غږ کړئ چې راشي په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو کې پانګونه وکړي او په ځینو برخو کې یې لکه د مالیاتو کمول، د اوږد مهال لپاره د ځمکو ورکړه او ګډ کار په څېر امتیازات هم دوی ته په نظر کې نیولي دي. په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ اداري په اند د 1400 لمریز کال په پرتله د 1401 لمریز کال په لومړیو 10 میاشتو کې د پانګونې کچه لوړه شوې ده. دا پانګونه د کانونو، کرنې، برېښنا او نورو مختلفو سکتورونو کې شوې ده. د پانګونې په زیاتېدو کې یو لړ عوامل شته چې مثبت اغېزه یې پرې کړې، له هغې جملې په ټول هېواد کې بشپړ امنیت، د واحد مرکزي نظام شتون، د اداري فساد او بډې اخیستنې له منځه تلل، د پانګونې ملاتړې نظام، د اسانه قوانینو جوړول، د مالیاتو کمېدل او دېته ورته نور موضوعات یادولی شو چې په افغانستان کې یې د نورو برخو ترڅنګ د زېربنایي پروژو پیل ته لاره پرانیستې ده.



## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## پیغامونه



کانونه د هېواد سرمایه او د ملي عوایدو د جوړولو بنسټیزه سرچینه ده او د دې ملي شتمنۍ په ساتنه او د شفافیت په تأمین کې باید پوره هڅه وشي.



افغان ولس د دوحې تړون په لاسلیک کولو سره په افغانستان کې د دریېم نړیوال اشغالگر امپراتور پر تابوت وروستی میخ ټک واهه. دې تاریخي حادثې د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو نوی باب پرانیست چې افغانانو که د توري او مبارزې ډگرونه په مېړانه گټلي دي، د سیاست او مذاکرې په میدان کې یې هم خپله وړتیا او استقلالیت ثابت کړی دی.



د نړۍ له هېوادونو غواړم چې د نورو ملتونو په څېر د اسلامیت او بشریت له مخې له افغانانو سره مثبت او پر متقابله نیک نیتۍ ولاړ تعامل وکړي. موږ له ټولو هېوادونو سره تعامل غواړو، هېڅ هېواد داسې نشته چې بل ته دې اړتیا ونه لري. د هغو هېوادونو په څېر چې تازه یې د افغانانو د ثابت حق په اړه نیک گام اخیستی، دا نور هېوادونه دې هم ورته گام واخلي او په هر څه کې دې خپل استقلالیت ثابت کړي.



د افغانستان هوا که له یوې خوا د پاکې انرژۍ د نشتون او د نورو موادو د سوځولو له امله خرابه شوې ده، له بلې خوا د تیرو څو لسیزو په اوږدو کې د اشغالگرو له لوري د خطرناکو بمونو او کېمیاوي موادو د استعمال ژور تاثیرات هم پاتې دي، چې له امله به یې زموږ هېوادوال تر کلونو پورې ترې کړېږي. د دې ککړ چاپېریال و او وژونکو کیمیاوي موادو له تاثیراتو څخه د خلاصون یوازینۍ لار نیالگي، بوټي، فصلونه او د افغانستان شنه کول دي.



له ټولو هېوادوالو په ځانگړي ډول د کابل قدرمنو ښاریانو څخه غواړم چې د خپلو کورونو مخته لږ تر لږه یو نیالگی کېنوي او پاللو ته یې توجه وکړي. زه باوري یم چې که دا کار ترسره شي په راتلونکو څو کلونو کې به د غرنیز کابل تپې سمسورې شي.



اسلامي امارت په کابل ښار کې د راټولو شوو سوالگرو د ستونزو د حل لپاره پوره هڅه کوي. پر راټولو شوو سوالگرو باندې پر نقدي مرستو سربېره، د خوراکي توکو مرستې هم وېشل کېږي چې دا لړۍ به په میاشتني ډول په راتلونکي کې هم دوام ولري.